د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

گڼه: 403

(8 سلواغه – 14 سلواغه 1401 هـ ش)

# په افغانستان کې د بیکارۍ ستونزه، لاملونه او پایلې یې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انگلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- په افغانستان کې د بیکارۍ ستونزه، لاملونه او پایلې یې ......................................... 3
- سریزه........................................................................................... 3
- په افغانستان کې د بیکارۍ عوامل ................................................................ 4
- د بیکارۍ اقتصادي او ټولنیزې پایلې ................................................................ 5
- وړاندیزونه ................................................................................... 6
- مأخذونه:..................................................................................... 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## په افغانستان کې د بیکارۍ ستونزه، لاملونه او پایلې یې

### سریزه

د افغانستان د احصایې او معلوماتو د ملي اداري اټکل ښیي چې د هېواد د ۳۴,۴ میلیونه وګړو له ډلې څخه ۴۹,۷ سلنه یې د کار په شرایطو برابر دي. خو په افغانستان کې د بې کارۍ لوړه کچه تل په هېواد کې یو له جدي ننګونو څخه ده، چې په وروستیو کلونو کې په ځانګړې توګه د ۲۰۲۱ کال د اګست له تحول وروسته مخ په زیاتېدو ده او د هېواد پر اقتصادي وضعیت یې ناوړه اغېز کړی دی.

که څه هم د افغانستان د اسلامي امارت لخوا په افغانستان کې د بې کارۍ ارقام نه دي اعلان شوي، خو د مهاجرت نړیوال سازمان په ۲۰۲۰ م کال کې د بیکارۍ کچه ۷۲ سلنه اعلان کړې وه. د کار د نړیوال سازمان د شمېرو پر بنسټ د اسلامي امارت تر واکمنۍ وروسته د ۲۰۲۲ کال په لومړیو دریو میاشتو کې لږ تر لږه ۵۳۸ زره کسان بې کاره شوي وو، او د دغه سازمان د اټکل له مخې د جون تر میاشتې پورې په هېواد کې د بې کاره کسانو شمېر شاوخوا ۹۰۰ زره کسانو ته لوړ شوی دی. له همدې امله ویلای شو چې د روان کال په وروستیو شپږو میاشتو کې هم په افغانستان کې د بې دندې کسانو شمېر په تېره بیا په دولتي او خصوصي ادارو کې د ښځو پر کار کولو له بندیز وروسته زیات شوی دی.

د دندو موندنه د دریمې نړۍ هیوادونو کې یو له خورا سختو کارونو څخه شمیر کیږي. افغانستان هم په دې ډله هیوادونو کې دی او دا مهال د بېکارۍ له سختو ننګونو سره مخ دی.که څه هم د بیکارۍ پدیده د نړۍ په حتی ټولو هیوادونو کې څه نا څه شتون لري، خو په افغانستان کې د دې اقتصادي سرطان وده دومره قوي ده چې درملنه یې لا زیاتو متخصصینو، اسانتیاوو او لا زیات وخت ته اړتیا لري. له بلې خوا د بې کارۍ ننګونه له خپل ځان سره نورې ننګونې هم رامنځته کوي، چې د یوه نظام او هېواد د سلامتیالپاره خطر ګڼل کېدای شي.

که څه هم د اسلامي امارت مسؤلین د کار موندنې او د بې کارۍ د کچې د راټیټولو په برخه کې د حکومت د هڅو خبره کوي. د کار او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال مولوي عبدالسلام سعادت له یوې رسنۍ سره په مرکه کې ویلي، چې د قوش تیپه، د سرپل ګازو، د کابل نوین ښارګوټی او د عینک د مسو کان استخراج کې به په ترتیب سره 30 زره، 20 زره، 35 زره، او 30زره تنو ته د کار زمینه برابره شي او اسلامي امارت ژمن دی چې د خپلو وړتیاوو په نظر کې نیولو سره په افغانستان کې د بیکارۍ کچه لا نوره هم راټیټه کړي.

دا چې په هیواد کې د بیکارۍ سببونه څه دي؟ او په افغانستان کې د بیکارۍ د کچې د راکمولو لپاره څه حل لارې شتون لري؟ دا هغه پوښتنې دي چې په لاندې کرښو کې په هېواد کې د بېکارۍ، د اقتصادي او ټولنیزو پایلو تر څنګ مطرح شوي دي.

## په افغانستان کې د بیکارۍ عوامل

په افغانستان کې د بیکارۍ پدیده په ډېرو عواملو پورې تړلې ده. د دې فکتورونو او لاملونو سم تشخیص، د دې لوی ننګونې سره د مبارزې لپاره لومړی ګام دی. دلته په افغانستان کې د بیکارۍ عوامل د هغوی د اهمیت له مخې په ترتیب سره څېړل کیږي:

**اقتصادي اِتکا:** په افغانستان کې اقتصادي اِتکا اوږده مخینه لري. دا مسئله ددې باعث شوې چې دغه هېواد ونه شي کولای په اقتصادي ډګر کې هراړخیز او ګټور پروګرامونو پلي کړی. د دغه ډول پروګرامونو نه پلي کېدل په هېواد کې د بې کارۍ د کچې د لوړېدو یو مهم لامل بلل کېږي.

**د کرنې او مالدارۍ سکتور ته نه پاملرنه:** د افغانستان شاوخوا ۸۰ سلنه خلک په مستقیم یا غیر مستقیم ډول په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. د یادو شویو سکتورونو ودې ته نه پاملرنه د دې لامل شوې، چې یو شمېر خلک دغه مسلک پرېږدي او په ډېرو مواردو کې نورو کارونو ته مخه کړي.

**د خصوصي سکټور نه پیاوړتیا:** په نورو هیوادونو کې، د پرمختللو هیوادونو په ګډون، خصوصي سکتور د عامه سکتور په پرتله د قوي مقناطیس په توګه کاری ځواک خپل لور ته جذبوي. له بده مرغه په افغانستان کې دغه سکتور دومره وده نه ده کړې چې د بېکارۍ د کچې د راکمولو لپاره پرې حساب وشي .

**د پرمختیایي بنسټونو د فعالیتونو درول:** له ۲۰۰۱ م کال وروسته د بېلابېلو بهرنیو بنسټونو پراختیایي فعالیتونه د پام وړ زیات شول، دې کار ډېرو خلکو لپاره د کار کولو لاره هواره کړه. د اسلامي امارت له راتګ وروسته د پرمختیایي بنسټونو په بندیدو سره هغه کسان چې په دې پروژو کې په کار بوخت وو، خپلې دندې له لاسه ورکړې او په پایله کې هیواد کې د بیکارۍ کچه لوړه شوه.

**د بهرنیو مرستو بندیدل:** د پخواني رژیم پر مهال د نورو بهرنیو مرستو ترڅنګ چې له بېلابېلو لارو افغانستان ته داخلېدلې، د عادي بودیجې یوه برخه او ټوله پراختیایي بودجه له بهرنیو سرچینو ورکول کېده. د یاد شوي نظام له سقوط وروسته دغه مرستې چې یو ډول د افغانستان اقتصاد پرې جوړ شوی و، ناڅاپه پرې شوې او دغه کار د دې لامل شو چې د هېواد اقتصادي نظام د سقوط تر سرحده ورسېږي. او په پایله کې د بېکارۍ کچه نوره هم لوړه شي.

**د پانګې تيښته:** په تېر حکومت کې د پراخو ناامنيو او فساد له امله ډېره زياته سرمايه له افغانستانه وويستل شوه. او دا کار د رواني امنيت د نشتوالي له امله اوس هم شتون لری. طبيعي ده چې د پانګو تيښته يوه بله پايله، په هيواد کې د بيکارۍ زياتوالی دی.

**د نفوس زياتوالی او د کاری ځواک د غوښتنې کموالی:** له يوې خوا د هيواد د نفوس زياتوالی او له بلې خوا د کارګرانو د غوښتنې کموالی په هيواد کې د بيکارۍ يو له عاملونو څخه ګڼل کيږي.که څه هم د احتمالي اټکلونو له مخې د افغانستان طبيعي زېرمې د ۳۰۰ ميليونو وګړو لپاره کافي دي، خو د هېواد له طبيعي زېرمو څخه د استفادې پر وړاندې محدوديتونو او د افغانستان مات ګوډ اقتصاد ته په پام سره په دې کې شک نشته چې د نفوسو زياتوالي په هيواد کې د بيکارۍ له سببونو وګڼل شي.

**ښارونو ته مهاجرت:** د اسانتياو له امله د هغو کسانو لپاره چې په کليو کې ژوند کوي د ښاري ژوند غوره کول د ځانګړې جذابيت درلودونکی دی. دې جذب ته په کتو، د کليو څخه ډيرى خلک ښار ته مخه کوي، او د ښار کاري بازار نشي کولی ټول کليوال مهاجرين جذب کړي. طبيعي ده چې د دې کار پايله به دا وی چې په ښارونو کې د بېکارانو شمير زيات شي. کله چې خلک له کليو څخه ښار ته راځي د ښاري ژوند د اسانتياوو او رنګونو تر څنګ بل لوی لامل يې د هېواد د کليو د پراختيا نشتوالی دی.

**سند اخيستنه:** د سند اخيستلو يادونه د بيکارۍ د يو سبب په توګه يادول په دې معنی نه دي چې خلک دې زده کړې ترلاسه نه کړي، بلکې دا په دې معنی دی چې په هيواد کې يو لوی شمير ځوانان په بازار کې د کاری شرايطو او فرصتونو ته له پام پرته داسې رشتې انتخابوي چې له هغو څخه تر فراغت وروسته په طبيعي توګه بيکاره پاتې کيږی. د بېلګې په توګه، د افغانستان په بېلابېلو پوهنتونونو کې د خصوصي پوهنتونونو په ګډون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځيو بازار ډېر ګرم دی، خو ددې توجه نه کېږي چې د افغانستان د کار بازار څومره وکيلانو او سياستوالو ته اړتيا لري. دا مسئله د دې لامل کيږي چې د حقوقو او سياسي علومو لوی شمير فارغين يا بې کاره پاتې شي او يا په کمبود سره په داسې کارونو کې بوخت شي چې د دوی له رشتو سره هيڅ تړاو نلری. دا موضوع په يوه جمله کې خلاصه کولی شو چې "د افغانستان ښوونيز او روزنيز سيستم، بازار د کار له اړتياوو او غوښتنو سره سمون نه خوري" او دا مسئله د هيواد د بيکارۍ يو عامل دی، په ځانګړې توګه د لوستي طبقې ترمنځ.

## د بيکارۍ اقتصادي او ټولنيزې پايلې

په دې کې شک نشته چې بېکاري د هېواد د اوسېدونکو پر ژوند درنې ناوړه پايلې لرلی شی. د بې وزلۍ د کچې زياتوالی، د ژوند د معيارونو ټيټوالی، د باتجربه او با استعداده کسانو تيښته، له حکومت څخه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د خلکو د ناخوښۍ زیاتوالی، سیاسي بحرانونه او اقتصادي رکود د هغې له مهمو مواردو څخه دي. دلته د هیواد لپاره د بیکارۍ پایلې په لنډه توګه څیړو:

- بېوزلي له بېکارۍ سره مستقیمه اړیکه لري؛ د بېکارۍ د کچې لوړېدل د بېوزلۍ ګراف د پورته تلو لامل شوی دی. دم ګړۍ د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (OCHA) د راپور له مخې، د افغانستان ۹۷ سلنه وګړي له فقر او لوږې سره لاس او ګرېوان دي. او فقر په اوسنیو حالاتو کې یوه لویه ننګونه ده.

- بې روزګاري د دې لامل شوې چې افغانستان خپل یو زیات شمېر متخصص کارکوونکي له لاسه ورکړي. دا مسئله له دوو زاویو څخه د بحث وړ ده.لومړی: افغانستان به د دغه کارپوه کاري ځواک له استعداد او انرژۍ څخه بې برخې شي، او دوهم: دغه کارپوه کاري ځواک چې د ډېرو پیسو په لګولو سره ترلاسه شوی، په ډېرو مواردو کې به په نورو هېوادونو کې په عادي کاريګر بدل شي.

- بې روزګاري په ټولنه کې د پېرودولو ځواک د کمښت لامل کېږي او دغه د ټولنې د پېرودولو ځواک کمښت، د خلکو د هوسایني ژوند د کچې د ټیټوالي لامل کېږي. او دا هغه څه دی چې په افغانستان کې له صفر څخه ښکته انتقال شوي او ځینې خلک اوس مهال د ژوند او مرګ تر منځ دي.

- بېکاري له دولت څخه د خلکو نارضایتي زیاتوي. د ژوند د معیار ټیټوالي او د ژوند سخت شرایط ممکن په هیواد کې د جدي سیاسي بحرانونو لامل شي.

- د دې حقیقت له امله چې وزګارتیا په بیکاره خلکو باندې سختې اقتصادي او رواني ستونزې مینځ ته راوړي، کولی شي د جرمونو او نورو ټولنیزو ستونزو کچه هم لوړه کړي.

- د بیکارۍ پدیده په هیواد کی اقتصادی رکود د ځان سره لرلی شي. بې روزګاري د یوه هېواد پر اقتصاد له دوو زاویو فشار اچوي. یو د بیکارانو له انرژۍ د اقتصادي پرمختیا لپاره کار نه اخیستل کیږي بل د بیکارانو د ژوند لګښت د هیواد په اقتصاد باندې تحمیل کیږي. دا دوه فکتورونه د دې باعث کیږی چې بیکارۍ د هیواد اقتصادي رکود کې مرسته وکړي.

## وړاندیزونه

د بیکارۍ ستونزه د نړۍ په ټولو هیوادونو کې په بیلابیلو کچو سره شتون لري. افغانستان د درېیمې نړۍ د هېوادونو په توګه په دې برخه کې له جدي ستونزو سره مخ دی. په هېواد کې به دا ستونزه هغه وخت پای ته ورسېږي چې د حکومت له لوري یو لړ واقعي او شعوري کړنې عملي شي. دلته ځینې کړنې وړاندیز کیږي چې کولی شي د بیکارۍ د کمولو په برخه کې له افغانستان سره مرسته وکړي:


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

1. د بیکارۍ د کچې راټیټول د عملي کړنو، هراړخیز او مطلوبو پالیسیو او پروګرامونو له غوره کولو سره مستقیمه اړیکه لري چې د اوږد مهاله کار ځای د پیدا کیدو سبب کیږي. افغانستان د خپلو پراخو طبیعی زیرمو او ستراتیژیک موقعیت ته په کتو او د ډیرو امکاناتو، ظرفیتونو او فرصتونو لرونکی داسې یو هیواد دی چې د افغانانو د هوساینې او هیلو لپاره ښه زیری کیدای شی. نو ځکه باید د حکومت له خوا لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پروګرامونه د بیکارۍ د کمولو لپاره په رښتینې ډول ترتیب او پلي شي.

2. د اقتصادي ودې پیاوړتیا، د فقر او بیکارۍ سره د مبارزې لپاره یو له بنسټیزو فکتورونو څخه شمیرل کیږي او هم د صنعت له پراختیا سره مستقیم اړیکه لري. دې موخې ته د رسېدو لپاره د خصوصي سکټور د پانګونې لپاره د مناسبو شرایطو او چاپېریال برابرول او پیاوړې کول پکار دي، چې افغان حکومت تر اوسه په دې برخه کې نه دی بریالی شوی.

3. افغانستان یو کرنیز هیواد دی او کرنه یې په اقتصاد کې مهم رول لوبوي. که دولت د هېواد کرنیزو محصولاتو ته د ترانزیت، مناسب بازار موندلو، د کیفیت لوړولو، پروسس او بسته بندۍ، کروندګرو ته د کیمیاوي سرې او اصلاح شویو کرنیزو تخمونو د وېش په برخه کې پاملرنه وکړي او د کورنیو تولیداتو د ملاتړ لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي، نو د کرنې سکټور په اقتصادي وده کې مرسته کوی او هم د بیکارۍ سره مبارزه کې مهم رول لوبوي شی.

4. د دې ترڅنګ باید نورو هېوادونو ته د کارګرانو او بشري ځواک د لېږلو په اړه هم غور وشي. دا کار د نورو هیوادونو سره د اسلامي امارت د تعامل او سیاسي اړیکو په پرمختګونو پورې اړه لري.

5. د کار د بازار له اړتیاوو سره سم د هېواد ښوونیز او روزنیز سیستم د سمون په برخه کې هم باید پاملرنه وشي او د هېواد د بازار له شرایطو سره علمي او مهارتي روزنه همغږې شي.

پای

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## مأخذونه:

http://www.nsia.gov.af/ ١

جمعیت افغانستان بیش از 34 میلیون اعلام شد

https://www.aa.com.tr/fa/%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86/%D8%AC%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%AA-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D8%A8%DB%8C%D8%B4-%D8%A7%D8%B2-34-%D9%85%DB%8C%D9%84%DB%8C%D9%88%D9%86-%D9%86%D9%81%D8%B1-%D8%A7%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%85-%D8%B4%D8%AF/2550887

اعلام آمار تازه از جمعیت افغانستان

https://www.tasnimnews.com/fa/news/1401/01/10/2688685/%D8%A7%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%85-%D8%A2%D9%85%D8%A7%D8%B1-%D8%AA%D8%A7%D8%B2%D9%87-%D8%A7%D8%B2-%D8%AC%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%AA-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86

www.iom.int 2

افغانستان در آمار؛ سرزمین جنگ، فقر و بیکاری (نویسنده: رضا مرادی)

https://8am.media/afghanistan-in-the-mirror-of-statistics-land-of-war-poverty-and-unemployment/

3 سیگار: صف بیکاران در افغانستان طولانی تر می شود

https://da.azadiradio.com/a/31842172.html

https://youtu.be/isGjAfkjn5A 4

https://8am.media/factors-of-afghanistans-dependence-on-foreign-aid/

https://www.bbc.com/persian/blog-viewpoints-59852124

https://da.azadiradio.com/a/31842172.html
https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2011/01/110107_l09_afeconamic_chalengies_zia

5 https://www.unocha.org

سازمان ملل: میزان فقر در افغانستان به 97 درصد رسید/ استانبول/ خلیل سلحشور/ خبرگزاری آناتولی 27 میزان 1401 هجری شمسی

https://www.aa.com.tr

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۸۰٦۱۸۰۰۰